AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسؤولیت محتوی، استعمال کلمات و جملات بدوش نویسندهٔ مطلب میباشد

آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۱/۲۸

# لارورکي لارويان

## اته ويشتمه برخه

### نا ليدلي، نا پيژند لي لا ري:

قاچاقبر په يو کور کې ديره کړو او وې ويل چې زه بيا تيليفون در ته کوم. سم مې په ياد نه دي، دويمه که دريمه ورځ وه، د ورځې يولس بجې وې، قاچاقبر تيليفون وکړ چې يو ساعت وروسته حرکت دی. د حرکت د توري له اوريدو سره سم مې تر سترګو وړاندې څو جملې پر له پسې ليکل کيدې او تلې راتلې:

خومره مهاجرت؟
خومره وړاندې تګ؟
چيرې؟
د چا کره ورتګ؟
چيرې دی د لارورکو لارويانو سر منزل او تمځای؟
اوچيرې دی...

يو ساعت وروسته را ښکته شوو، د بلاک مخکې د يوه روسي لادا موټر په جلب يو افغان نارينه ناست و، چې په اصطلاح قاچاقبر و. د شا سيټ کې يوه افغانه ميرمن له يوه ماشوم سره ناسته وه، ډريور په اشاره يوه کړم چې مخکيني سيټ کې کينم، زما د لاري ملګری فضل شا ته له ښځې سره کيناست. له حرکت سره سم د موټر چلوونکي و ويل: دا ښځه هم مسافره ده، ماشوم ور سره دی او اميد واره هم ده، تا سو سره چې ميرمني او ماشومان نه شته، هيله ده چې د افغانيت په خاطر په لاره کې له دې سره مرسته وکړئ.
د موټر چلوونکي ته هره شيبه چا په تيليفون کې ويل ژر کوه نا وخته شوه. په اول کې ما داسي فکر کاوه چې ګنې همدا قاچاقبر موږ تر ځايه پورې رسوي، خو لکه تل، وروسته پوه شوم چې داسي نه ده.
د انسانانو قاچاقچيان يا کاروباريان اصلاً دوی ته سپارل شويو مسافرينو ته د انسان په سترګه نه ګوري، دوی مسافرينو ته د څارويو په سترګه ګوري او په خپلو منځو کې يې په همدې نومونو يادوي. د قاچاقبرو هر څه په شفر کې ويل کيدل. په تيليفون کې به يې يو بل ته نه ويل چې مسافر دې څنګه کړل، را ودې ليږل که نه؟
ويل به يې:
«بار زدې يا نې؟»
له نيم ساعت مزله نه وروسته يې موټر له ميترو نه لرې يو متروک ډوله پارکنګ ته ور تاو کړ. موږ ته له موټر نه د ښکته کيدو و ويل شول.
هلته لس دولس قدمه لرې يو فلاينګ کوچ ډوله KIA کوريايي موټر ولاړ و، د روازه يې خلاصه وه، څو تنه په کې ناست وو، موږ ته هم موټر ته د ختلو و ويل شول، زموږ له ختلو سره سم موټر حرکت وکړ.
افغان قاچاقبر همالته پاتې شو او موږ يې يوه روس ته وسپارلو. روس ماما له خپل کلتور سره سم څو شيبې د موږ ښکنځلې کولې. ما داسې و انګيرله چې ګنې موږ ته وايي، خو وروسته پوه شوم چې هدف يې افغان قاچاقبر و، ځکه چې موږ څاروي يې لږ څه نا وخته ور ته تسليم کړو.

### کورکه غوجل:

له ما او فضل نه پرته په موټر کې دوه اردو ژبي، ور باندې پوه نه شوم چې هندوان وو که پاکستانيان، دوه افغانان له دوو ماشومانو سره ناست وو. افغانان دواړه د کابل پوهنتون ادبياتو پوهنځي کې زما شاګردان وو. دوی دواړو په يوه ټولګي کې درس وايه چې همالته سره آشنا او وروسته يې واده سره کړی و، سمدلاسه په ډنمارک کې ژوند کوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نارینه تاجک او ښځه پښتنه وه، خو په پښتو ویلو شرمیده. زما په لیدلو دواړو وخندل او د سر په اشاره یې احترام را ته وکړ. قاچاقبر ور ته ویلي و چې تاسو په لوړ آواز و نه غږیږئ چې عام خلک پوه نه شي چې تاسو بهرنیان یاست.

دا اوسنی روس ماما ډیر تند مزاجه، ډارن، خوماهره او چُست ډریور و. دا چې د دې کار په بدل کې ده ته څومره پیسې ورکول کیدې، په دې پوه نه شوم، خو وظیفه یې دا وه چې دا ور سپارل شوي ځاروي د روسیې او اوکراین د برید پر پوله باندې نه په نامه، بلکې په شمیر بل چا ته ور تسلیم کړي.

څومره چې سرحد ته نږدې کیدو، هماغومره کنترول او پیرې ډیریدې، خو ډریور لکه چې ښه ور سره بلد او قراردادي وي، له یوې اشارې او یا یوې جملې ویلو وروسته به یې د تایید او حرکت لاس ور ته وښوراوه.

په ځینو ځایونو کې به ډریور له لویې لارې څخه، وړو لارو، کلو او باندو ته موټر ور سیخ کړ. په لارو کې ما داسې کلي او په کلیوکې مې داسې خلک ولیدل چې کټ مټ مې د میدان ښار د نرخ د دادل کلي او کوڅې را یادې شوې، کورونو سره ولاړ ځاروي، په کوڅو کې د چرګانو ګرځیدل، کرکرې او آذانونه، د سپیانو غپا او...

خو د دې او هغو کورونو توپیر په دې کې و چې د روسانو کورونه پاخه وو، خو د پښتنو دا ختین.

له کلیو نه د موټر په تیریدو سره به کلیوالو تر هغې په موټر پسې کتل چې موټر به یې له سترګو پناه شو. د اوریدو له قراره چې په روسیه کې داسې کلي او باندې شته چې د هغو اوسیدونکي تر اوسه نه پوهیږي چې د روسیې جمهور رییس یا د سیمې واکدار څوک دی. د دې کلیوالو د ژوند په لیدلو سره، د لیدونکي زړه ته لویږي چې دا خبره به یو څه واقعیت ته نږدې وي او لیدونکی تعجب کوي چې د نړۍ د یوه زبرځواک په قلمرو کې دې داسې سیمې وي او داسې خلک دې هلته ژوند ولري.

د لارې په اوږدو کې یو ځای یوازې یو تن پنډ سری چې هیڅ ځای یې پولیس ته نه پاتې کیده او د پولیس یونیفورم یې اغوستی و، ولاړ و. موټر یې ودراوه، وریې پرانست او پرته له دې چې څه و وایي، موږ ته یې په ځیر،ځیر کتل. ما ته د افغانستان نخاس را په یاد شو، چې خلکو به هلته ځاروي اخیستل، نو په ځیر به یې کتل. کله به یې د حیوان ډډو ته لاس کړ او کله به یې د پسه لم په لاس سره تاله چې په دې بیه ارزي که نه، عمر یې څومره دی او...

پنډ پولیس هم موږ ټول له نظره تیر کړو او بیا یې ډریور ته و ویل:

څوتنه دي؟

هغه ور ښکته شو، دواړه غوږ په غوږ شول او څه یې سره و ویل، ډریور کوم شی پولیس ته په لاس کې ورکړل.

پولیس خړ غوړونه د موټر له مخې لرې شو او موټر بیا خپله مخه ونیوله.

له خوځیدو سره سم ډریور بیا ښکنځلو ته اړم شو او یوازې مور یې تلک و ترازو کوله، کله چې له ښکنځلو ستړی شو، نو بیرته په خپله غلی شو.

د شپې یوه بجه وه چې موټر یې د روسیې او اوکراین سرحد ته نږدې، د یوه ګڼ ځنګله په منځ کې ودراوه. روس ماما له موټر نه ښکته شو، بیا کله په آرامه او کله په ښکنځلو او قهر مقابل لوري سره په تیلیفون کې غږیده.

د ده وظیفه په خلاصیدو وه، رمه یې باید بل چا ته سپارلې وای. تیلیفوني خبرې اوږدې شوې. د موټر شیشې بندې وې، ماشومانو د ګرمۍ له لاسه ژړا انګولا پیل کړه. روس راغی وې ویل:

«شیشې بیرته نه کړئ چې د ماشومانو غږ چیرته لرې لاړ نه شي او څوک یې وانه وري.»

دی مو لیده چې په تیلیفون کې په غږیدا، غږیدا لړ څه لرې ولاړ. د ماشومانو پلار شیشه یو څه خلاصه کړه، د سترګو رپ کې موټر له میاسو ډک شو، داسې چیچل یې کول لکه په کابل کې ربړورو او په ماسکو کې روسي پولیسو.

څو شیبې وروسته سری را ستون شو او پرته له کومې خبرې یې په بیړه حرکت وکړ. د ځنګله په منځ کې یوازې د موټرد دوو ټیرونو له پاره لار وه. موټر ډیر ورو روان و. لس دولس دقیقې وروسته د یوه کور مخې ته ودرید. د کور دروازه تړلې وه، یو تن له نا مالوم لوري را پیدا شو او د کور ور یې پرانست، موږ ته د آرامه او ژر ننوتلو و ویل شول. دوی دواړه څنډې ته شول او څه یې سره و ویل. ډریور له موټر سره د سترګو په رپ کې داسې ورک شو، لکه مځکې چې خوړلې وي.

کور ته په ننوتلو پوه شوو چې دا کور له غوجل نه هم بد تر دی. نه فرش، نه کوم لوښی، نه کټ، نه کومه توشکه، نه برستنه، بس یوازې یو شی و، تورتم، تپه تیاره. یوازې په دهلیز کې یو تت شانتې ګروپ لګیده. کړکیو ته د غوا د ځلانو غوندې ډبلې، مردارې، خیرنې پردې میخ شوې وې. دوې کوټې وې چې له یوې نه بلې ته لاره تللې وه. موږ ښځو ته و ویل چې تاسو دې وړاندې کوټې ته ماشومانو سره ننوزئ، موږ به په دې بله کوټه کې ځای پر ځای شو.

په دې وخت کې، دې نوي آمر یا رمه والا موږ ته څو خبرې واورولې:

ـ د باندې وتلای نه شئ، چې لرې او نږدې ګاونډیان پوه نه شي چې دلته څوک شته،

ـ د دروازې یا کړکۍ د خلاصولو تکل به نه کوئ، چې څوک کرپ و کړوپ وانوري،

ـ ماشومان باید په هیڅ دول غږ اوچت نه کړي، و نه ژاړي او...

موږ له ځان سره د خوراک له پاره هیڅ هم نه درلودل. سري و ویل:

زه ځم، بې حوصلې نه شئ، سبا ته نا وخته بیرته را ستنیږم او تاسو ته به خواړه هم راوړم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ما شا وخوا وکتل، د تشناب یا بدرفت په نامه مې څه ونه لیدل. پوښتنه مې ځیني وکړه چې رفع حاجت به چیرې کوو؟
د سړي په شونډو د تمسخر موسکا خپره شوه او په دهلیز کې یې یو سطل ډوله لوښی په پښه ټیل واهه او وې ویل:
دا دی په دې کې یې کوئ!
په داسې حال کې چې په شونډو باندې یې هماغې نرۍ مسکا حکم چلاوه، سر یې وښوراوه، د دهلیز څراغ یې هم لکه زموږ د امیدونو ډیوه مړ کړ، له دروازې و وت، ور یې له بهر نه په ځارویو پسې کولپ کړ او خپله د سترګو رپ کې داسې ورک شو لکه د خوارو افغانانو خوشالي.
ټول غلي وو، داسې غلي لکه د نوي آمر صادر شوي فرامین چې په ځای کوي، چا نه سپړ قدرې غږ هم نه خوت، تا به ویل چې د سړي خبرې جادو وې او دا مخلوق یې ټول کنګل کړي دي.
ما د هغه د خندا او سر ښورولو په باب فکر کاوه چې آیا ده زموږ له حد نه زیات مجبوریت ته د افسوس سر وښوراوه، که زموږ ساده ګۍ ته چې په لوی لاس مو ځانونه دوی ته سپارلي دي.
تیپه تیاره وه، ټول آرامه او ساکت ناست و، یو بل مو نه لیده. ټولو د تیارې په باب فکر کاوه، د راتلونکې په باب، د نا مالومې راتلونکې په باب. د ټولو لارورکو لارویانو راتلونکې داسې تیاره وه لکه همدا کوټه.
فضل لکه غلا چې کوي، غږ یې وکړ:
استاد کجا ستې؟
ما هم په ټیټ غږ پوه کړ چې دلته یم. ده زما د غږ لورې تعقیب کړ چې ځان را نږدې کړي. لکه شل چې وي، په ښنیدو، ښنیدو یې ځان تر ما پورې را ورساوه او څنګ کې مې جوخت لکه ماشوم کیناست.
قاچاقچیانو خو موږ ته د ځارویو په سترګه کتل، خو دا شپه مو عملاً د ځارویو په ډول، بې برستنې، بې توشکې، بې بالښته تیره کړه، په ریښتیا هسې ځارویو غوندې پراته وو.
د سهار زیرې هغې رڼا وکړ چې کړکۍ ته د اچول شویو زړو ځلانو له سوریو نه کوټې ته را لویدلې وه. د کوټې د تیارې لمن خو ټوله شوې وه، خو زموږ د سرنوشت تیاره لا په هماغه پنډوالي سره زموږ  پر اوږوو او اروا باندې بار وه.
ټول په تمه وو چې اوس به سړی د خوړلو له پاره یو څه راوړي. چې لږ نوره پسې رڼا شوه، یو بل ته مو کتل، ټول بیخوبه او ستومانه وو، بس په لوی لاس مو ځانونه بندیان کړي وو.

## یو کرم او یو لښکر:

د شپې په تیاره کې مې داسې انګیرله چې دا زموږ ډله څومره کم طالع او بد چانسه ګروپ دی چې په دې سرنوشت واوښتو؛ خوسهار چې څومره رڼا کیده، هغومره زما سترګې پسې خلاصیدې شا و خوا مې کتل د کوټې دیواله ته مې پام شو چې یو څه د لوستلو له پاره شته. ښه ور نږدې شوم، د خپلو  سترګو فوکس مې چې ښه ور برابر کړ، نو پښتو او فارسي کرښې مې په کې صحیح کړې، چې لوستل مې پیل کړل، زموږ نه د مخکینیو لارورکو لارویانو خاطرې، یادګارونه، د زړه غوټې، ښکنځلې او... وو، چې له ډیر زجر، درد، بې خوبی، انتظار او لوږې نه وروسته یې لیکلې وې.
په لیکل شوو جملاتو کې چا د قاچاقبر ښځه تلک و ترازو کړې وه، چا پریوررو ته بد رد لیکلي وو، چا د ښاغلو رهبرانو؟ عزت پر ځای کړی و، چا څه او چا څه او ځینو بیا په کې ځانونو ته هم لیکلي وو:
ښه ده چې په همدې سرنوشت واوښتو، موږ خپله ویلې چې:

خدایه!
ته د اسلام سرتیرو ته بریا ورکړې!
دایي هم د اسلام د سرتیرو بریا!
اوس یې ګالئ.

وخت په تیریدو وا و نس په ورۍ کیدو. لویانو څه نه ویل، خو ماشومانو د لوږې ژړا پیل کړه. د ماشومانو پلار نا چاره پرده لږ شانتې جګه کړه، که ګورې حویلۍ کې وړوکې کرونده ده او ولیدل شول چې په ټولو کرل شویو شیانو کې کرم د عاجلې استفادې له پاره تیار دی. ورو یې پرده لرې کړه او د کړکۍ له واړه سورې نه په ډیر ستونزمن ډول د باندې ووت، یو کرم یې په بیره وشکاوه او بیرته را ننوت. د کرم د مینځلو له پاره اوبه نه وې، موږ یوازې د څکلو له پاره په وړو پلاستیکي بوتلونو کې اوبه درلودې چې هغه هم خلاصې شوې وې.
د کرم د مخ څو پاڼې یې لرې کړې، کله چې داړه شو، نور کرم پاک او د خوراک له پاره چمتو و، یوه، یوه پاڼه یې شکوله او ماشومانو ته یې ورکوله، د ماشومانو مور او پلار هم په خوراک پیل وکړ، د کرم پاڼې لکه چې نه تمامیدونکې وې. هغوی چې بس کړه، بیا نو لویانو د کرم پاڼې داسې وخوړې او یوه پناه یې کړې لکه پریوررو چې کابل تالان او یوه پناه کړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مازدیګرمهال کرپ، کړوپ شو، ور بیرته شو، سرې راغی، موږ ټولو ته یې دوې وچې د سیلو ډوډۍ راوړې وې.
کله یې چې ډوډۍ موږ ته را کوله، په نیشخند او خندا یې و ویل:
پرېت نه وه اپي تي تي (بنه اشتها)
سرې له خندا ډکه خوله بیرته و وت او ور یې بیا په موږ پسې کلپ کړ.
د قاچاقبرانو مسافرین نه خوښیدل، ځکه هره شیبه یې له مسؤلیت او خطر سره یو ځای ده، دا د دوی خوښه او تصمیم نه و چې موږ ډیره موده وساتي، دوی هم سرحدونه، د برید کرښې او د پولیسو حالت او موقعیت څاره، بیا یې د تګ او نه تګ پر تصمیم فکر کاوه. دوی زموږ څه د ترور زامن نه وو چې موږ یې په خوښۍ او عزت ساتلي وای، دوی خپل وارته کتل چې څه وخت موقع برابرېږي چې موږ بل چا ته وسپاری او خپل ځان له مسؤلیت نه خلاص کړي.
بیا زموږ سرنوشت پر موږ خپل وزرونه وغوړول، بیا تیاره شوه، یو بل مو نه لیده، خو په رڼا کې پوه شوي وو چې څوک چیرې ناست دی. دوه افغانان چې ما ته نږدې ناست وو، ورو مې ور ته و ویل:
اوس خدای راوستي ده، راځئ سرونه به کیږدو.
لس پنځه لس دقیقې به لا نه وې تیرې، چې زموږ د ډلې دوه تنه هندوان بیا ویده او داسې بیغمه خریدل لکه چې خپلې ادکې مور کره پراته وي.
زه لا د هندوانو د بیغمباشی له څرته نه وم خلاص چې د باندې د موټرغرهاری ترغوږ شو، زه نور هم ورته غوږ په آواز شوم. د پښو څپهاری شو، ور پرانستل شو او دوه تنه نور زموږ له ساتونکي سره را ننوتل. سمدلاسه یې له ساتونکي نه پوښتنه وکړه:
ټول همدومره دي؟
ساتونکي په ډیر احترام او بیره و ویل:
هو همدا دي.
هغوی چې د آمرینو اکټونه کول، وې ویل:
تګ ته چمتو شئ.
موږ په کوټو کې دومره تنګ او ستړي شوي وو چې د سترګو په رپ کې ټول د وتلو له پاره چمتو شوو. ټول په بیره و وتو، په دوو وړوو موټرو کې ځای پر ځای شوو او حرکت پیل شو.
تقریباً له یو ساعت مزل نه وروسته موټر ودریدل او موږ ته د ښکته کیدو و ویل شول. دلته دوه تنه نور نارینه له عجیبو څیرو او جامو سره ولاړ وو، تا به ویل چې د منځنیو پیړیو انسانان یې راوستي دي.
موږ یې د پسونو په ډول په شمیر هغو ته تسلیم کړو، آمر ډوله خلک له موټرو سره سمدلاسه ترې تم شول.
نویو ساتونکو خپله حکمروایي پر موږ پیل کړه. ټول یې په یوه لیکه ــ لکه د عسکري یوستوی لیک ــ ودرولو، د دوی نه یو تن د لیکې په سر او بل دا یې د لیکې په پای کې ودرید او د حرکت امر یې وکړ.
لږ چې وړاندې لاړو، اوبه مخې ته راغلې، مؤظفینو و ویل:
پایڅې مو بډ وهئ، بوټونه مو په لاسو کې ونیسئ، دا لږې اوبه دي چې له دې پوریوزو.
ترلي چرګان وو، هر څه چې دوی ویل، باید هماغسې مو کړي وای.
لارورکو لارویانو ته هیڅ مالوم نه وو، نه وچه، نه اوبه، نه ځنګل، نه کلی، نه ښار او نه... او حتي ډیر ځلې لا په دې هم خبر نه وو چې د کوم هیواد په حریم کې یو.
دا اوبه خو ښې وې لږې پاکې او ترځنګانه پورې وې، له دې چې ور تیر شوو، ښه لویه مسته ویاله چې تر اوسه پورې مې هم په اروپا کې نه ده لیدلې، په مخه راغله. په ویاله کې لا پخوا یوه وړه کشتۍ تیاره ایښودل شوې او د ویالې له دواړو خواوو نه په پړو ترل شوې وه. دوه، دوه تنه یې په کې تیرولو.
لږ ځنډ نه وروسته بیا اوبه پیل شوې. دوی لا په وچه کې موږ په رمزه پوه کړو چې بوټان همداسې په لاسونو کې ونیسو. دا اوبه هسې ساده اوبه نه وې، بس سم دم د انساني فضلاتو ډنډ و. ښایې د هغې سیمې ښا و خوا ښارونو او کلیو منظم کانالیزاسیون نه درلود چې د بدرفت مواد یې له اوبو سره د ځنګلونو په منځ کې دې ستر ډنډ ته لیږدول کیدې.

## کا کا ډنډ او:

په دې ډنډ کې مو تقریباً درې یا درې نیم ساعته مزل وکړ چې له څو جدي ستونزو سره مخامخ شوو:
په اول سر کې چې ډنډ ته ننوتو، نو د ډنډ اوبه داسې په مزه بوییناکې وې چې مزله دومره نه زورولو لکه د اوبو بوی، چې یو څه مزله نه وروسته داسې ستونزې رامنځ ته شوې چې بوی مو هیر شو.
بله لویه ستونزه د میاسو چیچل وو، څنګه میاسي؟ نه لس، نه شل، نه سل او نه هم زر، بس سم دم د میاسو باران و چې را نازل شوی و، په هیڅ ځای یې صرفه نه کوله، له مازې به چې د بدن لوڅ ځای په لاس ورغی، پرته له دمې به یې نیشونه په کې چوخول، بس چیچل و او چیچل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بله ستونزه د لارې د اږدیدو او د اوبو د زیاتیدو وه.
اوبه اول تر ځنګانه، بیا تر نامه او کله، کله به تر ټټر پورې هم په کې ډوب شوو. تر اوبو لاندې به کله ختو او کله لرګو ښویولو.
سره له دې قاقبرجان؟ په اول سر کې ټولو ته ویلي و چې ډیرو کالیو او لویو پنډکیو ته حاجت نه شته، خو چا ته وایې.
هر یوه تر وسه پورې ځانته پنډکی جوړکړی و(موږک په سوري نه ځاییده، چج یې په لکۍ پورې وتاړه).
خو تر ټولو لویه ستونزه د ماشومانو وه. فردین او فرشتې خپل ماشومان اخیستي وو. بله افغانه میرمن چې نارینه نه و ور سره، یو ماشوم یې په غیږ کې، بل یې په نس کې او ګلالۍ غټکې پنډکی پرې د پاسه.
زما یوازې دومره له لاسه کیده چې د غیږې د څلور کلن ماشوم مرسته ور سره وکړم. موږ نه پوهیدو چې په کوم لوري روان یو، بس په ورکو لارو سر وو، یوازې دا دوه تنه زموږ ساتونکي پوهیدل چې په کوم لوري مو بوزي او کومې څنډې ته مو وباسي.
دوی روان، موږ ور پسې، هیڅ یې نه ویل، غلي روان وو، کله، کله به یې غږ وکړ چې ژر کوئ. ما له بې حوصله ګۍ نه څو ځلې د شکایت غږ جګ کړ او ور یاده مې کړه چې تاسو خو د دومره اوږدې لارې نه و ویلي.
دا خبره مې چې څو ځلې ور ته تکرارکړه، د سرې حوصله سر ته ورسیده. اول یې صفا ستره د مور ښکنځلې را ډالې کړې او بیا یې څو نور د نه ویلو جملات پرله پسې په یوه سا را ته تکرار کړل، په پای کې یې د اخطار په ډول را ته و ویل:
که نوردې سپږ غوندې هم له خولې راویسته،همدا مرداري اوبه به دې هدیره وي،څوک دې پوښتنه هم نه شي کولای.
بس غلی شوم،له ځان سره مې ویل:
ترلیه چرګه! ځان وژنې که څنګه؟
د قاچاقچي له اُلتیماتم نه وروسته زموږ پر کاروان ښایسته ډیر وخت مطلق سکوت حاکم و، چې نا څاپه د فردین د میرمنې غږ د سکوت پرده وڅیرله:
«دا ماشوم را نه لویږي، سترې یم، نور نه شم کولای خپل ماشوم یوسم.»
خوله چا غږ و نه خوت، هر څوک د خپل غم په جال کې را ګیر و. بیا مو چې څو ګامه واخستل، ښځې چغې کړې:
«او خلکو!
ماشوم را نه واخلئ، که نه را نه په اوبو کې لویږي!!!»
فضل نومي زلمي چې ما ته هر کله نږدې پاتې شوی و او یو څه یې زما خبرې منلې، ور ته و مې ویل چې ماشوم ور نه واخله، ده هم له ښه ویلو سره سم ماشوم واخیست، خو تر شونډو لاندې غومبیده. په یو دوه جملو یې پوه شوم چې ویل یې:
چې نه یې شي ساتلای او نه یې شي وړلای، بیا یې ولې زیږوي او...
ما چې د بلې افغانې میرمنې ماشوم اخیستی و، خپل پنډکی مې شا پورې تړلی و. په یوه لاس کې مې ماشوم او په بل لاس کې مې دستمال و. په خولو کې لکه باران وهلی مږز(مره ږز) لوند خیشت وم. په دستمال مې خولې پاکولې او میاسو به مې چې پر سر او مخ یرغل وکړ، همدا دستمال زما د دفاع آله وه. خدای خبر چې له خولو نه د مخ او سر پاکولو کې زما څیرې او سر څه ډول حالت غوره کړی و.
د شا و خوا کلیو د برقونو تته رڼا به کله، کله د ونو د کموالي په سبب د تیارې زړه ور څیره، تر موږ پورې به یې غځونې کولې او موږ به ایله یو د بل مخونه لیدل. زما د غیږې ماشوم چې په همدې حالت کې ما ته وکتل، چغې یې کړې او خپلې مور ته یې و ویل چې:
ما در واخله.
مور یې پوښتنه ځینې وکړه چې ولې؟
ماشوم و ویل:
کاکا به به بواس.
مور یې ور ته و ویل:
نې بچیم،اې کاکایت اس، به بو نیس.
په همدې به بو، به بوکې خدای ورحمیده او د اوبو څنډې ته و وتو.
بیا چې یو دمه ځې ته و رسیدو، په کوټه کې ناست وو، مور یې ورته و ویل:
اې امو کاکایت اس که تره از دنداو کشید. بیا نو ماشوم ت رډیرې مودې چې په لاره کې سره یو ځای وو، ما ته به یې کاکا ډنداو غږ کاوه.

د اوه ویشتمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ